AGA KHAN MUSIC
AWARDS

# د آقاخان د موسيقۍ جايزو د ۲۰۲۲ ګټونکي اعلان شول

## جايزه ګټونکي له معاصرو ټولنيزو او چاپېريالي ستونزو سره د ښکېلتيا او د موسيقۍ دودونو د پايښت او پراختيا لپاره وستايل شول

**جينيوا، سويټزرليند، ۶ اکتوبر ۲۰۲۲** – د آقاخان د موسيقۍ جايزو د ۲۰۲۲ ګټونکي نن اعلان شول. دا درې کلنۍ جايزې، چې د والاحضرت آقاخان له خوا په ۲۰۱۸ کې تاسيس شوې دي، په ټوله نړۍ کې په هغو سيمو کې چې مسلمانان په کې د پام وړ حضور لري، د موسيقۍ په ډګر کې استثنايي خلاقيت، ژمنتيا او نوښت ستايي. د جايزو ګټونکو او د ځانګړې يادونې وړ نوماندانو ته به په شريکه ۵۰۰۰۰۰ امريکايي ډالر جايزه او د مسلکي پراختيا لپاره فرصتونه وړاندې کېږي. په دې فرصتونو کې د نويو کارونو د ايجادولو لپاره کمېشن، د ثبتولو لپاره قراردادونه او د هنرمندانو مديريت، د ازمايښتي ښوونيزو نوښتونو ملاتړ، او د موسيقۍ د خونديتوب لپاره تخنيکي او رغنيز مشاوريتونه، د تحفظ او خپرولو پروژې شاملې دي.

د آقاخان د موسيقۍ جايزې د اسماعليه مسلمانانو د ۴۹ مؤروثي امام والاحضرت آقاخان هغه باور منعکسوي چې موسيقي د کلتوري انعکاس دنده ترسره کوي، د ټولني حس، هويت او ميراث ژوروي، او په ورته وخت کې د بېلابېلو مخينو لرونکو خلکو ته په پياوړې توګه رسيدګي کوي.

د جايزه ګټونکو د نومولو پر مهال، د جايزو ماسټر ژوري خپله هيله څرګنده کړه چې د ۴۰۰ تنو په شاوخوا کې نوماندانو له ډلې څخه چې له جغرافيوي او کلتوري اړخه متنوعه ډله ده، د امکان تر حده زيات فوق العاده نوماندانو ملاتړ په داسې حال کې وکړي چې موسيقي کارانو او د موسيقۍ روزونکو ته شديده اړتيا ده. د موسيقۍ د ميراث په خونديتوب او روان پرمختګ کې له ونډې لرلو سره سره، د دې نوماندانو زياته برخه د موسيقۍ له څواک څخه په ګټې اخيستلو د ټولنيزو او چاپېريالي موضوعاتو په اړه پوهاوی خپروي.

د آقاخان د موسيقۍ جايزو ګټونکي به په مسقط، د عمان سلطنت کې د يو لړ سره تړلو پروګرامونو په جريان کې ولمانځل شي، چې د آقاخان د مهندسۍ له جايزو سره په ګډه د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر مياشت په ۲۹-۳۱ نېټه تنظيم شوي دي.

**د آقاخان د موسيقۍ جايزو د ۲۰۲۲ ګټونکي په لاندې ډول دي:**

<u>ګټونکي:</u>

**ذاکر حسين (هندوستان)**
د ټول ژوندانه د لاسته راوړني لپاره ځانګړې جايزه، د نوموړي د روښانه بين الفرهنګي موسيقي کارۍ د ښکاره مادل په ستاينه کې چې د طبلې مقام يې هم په هندوستان او هم په نړۍ کې د بې شمېره هنري همکاريو، کنسرټ سفرونو، کمېشنونو، ثبتونو او فلمي کارونو له لارې لوړ کړی دی.

**افيل بوکوم (مالي)**
د نيافونکي، مالي څخه سندرغاړی او ګيتار غږوونکی چې موسيقي يې غږيز ګيتار د موسيقۍ له محلي آلاتو سره يوځای کوي چې د «صحرايي آبي» غږ په څمکني، دويز سټايل کې منعکس کړي.

**اسين خان (لنګا) (هندوستان)**
سرنګي غږوونکی، سندرغاړی، کمپوزر او مدني فعال چې د راجستان په مؤروثي لنګا موسيقي ټولنې پورې تړاو لري، او صوفي

شاعري په دودیزو او نویو کمپوز شوو نغمو کې وړاندې کوي.

**کومبان منت ایلي واراکني (موریتانیا)**

د سویل لویدیځې موریتانیا له ترارزه سیمې څخه سندرغاړی او آردین غږوونکی، چې مورتیانیایي موسیقي په ژور دودیز سټایل کې وړاندې کوي.

**داود خان سدوزی (افغانستان)**

د افغان رباب مخکښ غږوونکی چې په ټوله نړۍ کې د افغان موسیقۍ خوندیتوب، پراختیا او خپرولو باندې ستر اغېز لري.

**پیني کاندرا ریني (اندونېزیا)**

اندونېزیایي کمپوزر، نوښتګر، سندرغاړی او روزونکی چې د دودیزې اندونیزیایي موسیقۍ پوهه یې په ټوله نړۍ کې د نویو کارونو په ایجاد کې څرګندېږي.

**سومیک دتا (برتانیه)**

د سرود غږوونکی چې په هندوستاني کلاسیکه موسیقۍ کې خپله روزنه له پاپ، راک، الکترونیکا او فلمي سندرو سره ګډوي چې د بېړنیو ټولنیزو موضوعاتو په اړه پوهاوی رامنځ ته کړي، لکه د اقلیم بدلون، کډوال او رواني روغتیا.

**یحیی حسین عبدالله (تنزانیا)**

له دارالسلام، تنزانیا څخه د نعتونو کمپوزر او نعت خوان  او د قرآنکریم قاري، چې په سواحلي او همدا ډول د تنزانیا له ۱۲۶ ځایي ژبو څخه په ځینو کې ترانې کمپوز کوي او وایي.

**یاسمین شاه حسیني (ایران)**

د عود مخکښه ځوانه ماسټره چې د خپلو نوښتګرو کمپوزونو او نوښتونو له لارې په ایرانۍ موسیقۍ کې د دې آلې مقام ته یو نوی انځور ورکوي.

**زرڅانګه (پاکستان)**

د پاکستان، خیبرپښتونخوا څخه سندرغاړې، چې د قبایلي پښتنو د شفاهي دودیزې موسیقۍ لپاره د خپل وقف کړي کاري ژوند له امله د پښتون فولکلور د ملکې په حیث پېژندل کېږي.

<u>ځانګړې یادونې:</u>

**دلشاد خان (هندوستان)**

په راجستان کې د مؤروثي کربښې د لسم نسل سرنګي غږوونکی چې د سرنګي ژبه یې فلمي موسیقۍ ته وغځوله او د نوښتګرو بین الفرهنګي همکاریزو پروژو له لارې پراختیا ورکوي.

**ګلشن انسیمبل (ایران)**

څلور ښځې چې ایراني دودیزه موسیقي له معاصر غږ سره اجراء کوي او د ښوونکو په توګه فعالې دي، چې ځانګړی تمرکز یې پر دې دی چې خپل د موسیقۍ دود نجونو او ښځو ته انتقال کړي.

**سین ظهور (پاکستان)**

AGA KHAN MUSIC AWARDS

پنجابي موسيقي کار چې ټول عمر يې په محلي زيارتونو او جشنونو کې صوفي شاعري ويلې ده، چې ډېرى وختونه ورسره روحاني نڅا هم وي.

**سيد محمد موسوي او ماهور انسټيټيوټ (ايران)**
د ماهور د فرهنګ او هنرونو انسټيټيوټ بنسټګر او رئيس، چې د ايراني موسيقۍ او موسيقۍ پوهنې په پراختيا کې يې د پام وړ ونډه اخيستې ده.

**ذوالکفل او بورام (اچيه، اندونېزيا)**
د اچيني سندرو د دودونو راژوندي کوونکي چې د ذوالکف له خوا تاسيس شوي د دوديزو سندرو او طبلو په ترکيب، بورام کې د ګډون له لارې په ځوانانو کې د ټولنې جوړول ترويجوي.

د آقاخان د موسيقۍ جايزو ماسټر ژوري همدا ډول مسلم الکثيري عماني موسيقي ميراث ته د نوموړي د فوق العاده خدمت له امله د ځانګړې جايزې ګټونکى اعلان کړ. ښاغلى الکثيري، له مسقط، د عمان سلطنت څخه د موسيقۍ يو څېړونکى، د هنر مدير، اجراءکوونکى او کمپوزکوونکى دى، چې د عماني موسيقۍ په راټولولو، مستند کولو، خوندي کولو، او خپرولو کې يې ستر لاس لرلى دى.

***د ګټونکو بشپړ ژوندليکونه [دلته](#) د لاسرسي وړ دي***

**ماسټر ژوري** چې ګټونکي يې انتخابول د اذربايجان، بحرين، هندوستان، ترکيې، تونس او متحده ايالتونو څخه د شپږو مستعدو د هنرونو مسلکي کسانو څخه جوړه شوې وه: جلالتمآب شيخ هلا بنت محمد الخليفه، فرانګيس عليزاده، ديويا بهاټيا، راچل کوپر، يوردال توکچان او ظفر يوسف.

***د ماسټر ژورۍ د غړو بشپړ ژوندليکونه [دلته](#) د لاسرسي وړ دي***

د آقاخان د موسيقۍ جايزې – چې د آقاخان د موسيقۍ پروګرام له خوا اداره کېږي، او د آقاخان د فرهنګ صندوق يوه هڅه ده – د يوې دائمي کمېټې له خوا مديريت کېږي چې مرستيال مشر يې **جلالتمآب آقاخان** او د هغه ورور، **شهزاده امين آقاخان** دي. د دائمي کمېټې نور غړي په لاندې ډول دي: **آرا ګزيليميان**، ځانګړې سلاکاره، پرووست اميريتوس، جوليارد سکول، او هنري او اجرائيوي رئيس، اوجای ميوزيک فيسټيوال؛ **سليمه هاشمي**، د بيکن هاوس ملي پوهنتون استاده، **شمس قاسم-لکه**، د مرکزي اسيا پوهنتون د مرستندويه صندوق مشر؛ **جوزف ميليلو**، اجرائيوي پروډيوسر، د بروکلين د ميوزيک اکاډمي؛ **ښاغلی جونتن مليز**، د ايډينبرا نړيوالې کلتوري غونډې رئيس؛ او **زيبا رحمان**، د اسلامي هنر لپاره د ډوريس ډيوک بنسټ کې د پلونو جوړولو پروګرام رئيس.

***د دائمي کمېټې د غړو بشپړ ژوندليکونه [دلته](#) د لاسرسي وړ دي***

د رسنيزو پوښتنو لپاره:


akma@akdn.org
semin.abdulla@akdn.org


**رسمي هشټګونه:** #AKMA2022 #AgaKhanMusic #AgaKhanMusicAwards #AKMA #AgaKhanTrustForCulture #AKDN